# په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت

## اوږه په اوږه



Ketabton.com

NTM-A
NATO Training Mission
AFGHANISTAN

د۲۰۱۲ کال د مې دمیاشتې پنځمه ګڼه

ماهنامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی گنه کی — مخ


د افغانستان د دایکندی په ولایت کی یوالی پراختیا مومی ۳
دافغان ملی پوځ دښځینه و کنډک د وسلو روزنو د استعمال په بهیرکی وړیتا وخوده. ٤
افغان ملی امنیتی ځواکونه د ناچاودیدونکو توکو دخطرڅخه د دفاع په موخه تدریسی چاری پرمخ بیایي ٥-٦
په تدریجی توګه د یو هیواد جوړول ۷
افغان مشرانو دافغان ملی پوځ راتلوونکی په موخه یولوړ رتبه افسر وټاکل ۸
دسواد زده کړی پروګرام د شاهین روزنیز مرکز لپاره یو لوی پرمختګ دی ۹
په کندهارکی میشت بهرنی سلاکاران د افغان چارواکوسره مرسته کوی ۱۰


## قوماندانی

**په افغانستان کی دناټوروزنیز ماموریت — عمومی قوماندان — ډګرجنرال ډانیل بولجر**
**په افغانستان کی دناټوروزنیز ماموریت — سرپرکمشرقدمدار — جفری هاف**
**په افغانستان کی دناټوروزنیز ماموریت — قوماندانی داړیکو مسئول — ډګرمن ټیم ستافر**

**دطرحی او دیزان مدیر — پیتی آفسر جوســیف ســیوی**
**د مجلی ډیزاین او ایډیټ — اخترمحمد «شینواری»**

په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت د عامه اړیکو د دفتر ژباړونکی اخترمحمد شینواری

دمجلی د لومړي مخ: دهیواد یوی نهه کسیزه کمیتی چار واکو چی پدی کمیټه کی د افغانستان د پارلمان او دملی امنیت غړی شامل و د کابل څخه پرواز وکړ ترڅو د والی قربان علی او نور و مشرانو سره لیده کاته وکړی ، ددی لیدو کتو موخه داوه چی دوی هیواد والوته د سولی پیغام ولیږی( انځور افسر نازلی کانفسور)
دمجلی پورتني مخ : دافغانستان د ملی فاع په وزرت کی دافغان ملی پوځ راتلوونکی په موخه یولوړ رتبه افسرټاکلو په موخه د یاد وزارت هیئت د نوماندو سره د مرکی پرمهال.(انځور ایرک لاک ووډ)
دمجلی د وروستی مخ: دهیرو په کمپ کی د ماین خطر له منځه وړلو کورس په بهیر کی د افغان عامه نظم پولیس دخپلو همکارانو د خوندی ساتنی په موخه د ماین پاکولو الی څخه په کار اخیستوسره د ۳۶۰ درجی امنیت دلارښوونکی مشری کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سواد زده کړه: رښتینی ځواک

راپور: په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت او د افغانستان امنیت لیږد وني لپاره د ګډې قوماندانۍ عمومي قوماندان ډګرجنرال ډانیل پی. بولجر

سوپرهیرو فلمونه په اوسني نړیکې ډیر مشهور دي.دکنساس ښارځخه نیولی تر کندهار پورې ترې اوریدونکې ګټه اخلي چې دیادو فلمونو نومونه په لاندې توګه ذکرشوي:

ونډر ومن(حیرانه ښځه) بټمن، ایرون من( غښتلي سړی)، د هولک(زړه کیشتی) شین اریکین کپتان امریکا، بلک ویډو، داکس من او نیک فوریو اجینټ شیلډ.

دهالي ووډ فلمونو راز باید څرګند نه شي، مګر هر فلم ورته مطلب لري:په فلمونوکې یو نارمل انسان کولای شي چې په ناڅاپي توګه واک ترلاسه کړي: الوزي، دیوالوته ختلی شي،دیوالونه ړنګوي په اور، برښنا په رڼاګانوکې لوبې کوي. دفلم هلک د جرمونو پروړاندې مبارزه کوي او بدکاره خلکوته وهل ټکول ورکوي. پدې پړاوکې، نومړي ښايي د خپل ژوند سمون په موخه کار وکړي یا یې ونه کړي.

څوک ځواک او واک نه غواړي؟ دننې ورځې د فلم هلکان، د پرون ورځې د دخندونکې کتاب هیرو، او د میتودلوژیکي تاریخچې ټول انسانان دي ته هڅوي چې یو حیرانوونکې شی ترسره کړي.که څه هم مونږ یو هم نه شو کولای چې د ستیل سیخان ،مرمۍ ،راکټ او څنځیرونه مات کړو خو مونږ د خپل ژوند د بدولون په مخه غوره مهارتونه لرو چې ترې کار واخلو او خپل ژوند ته مثبت بدلون ورکړو او خپل ورځینې ژوند ته په ښه توګه دوام ورکړو.مونږ کولایشو چې لیک او لوست وکړو.

د ښوونځي هر زده کوونکې مونږ ته حیرانوونکې نه بریښي ځکه چې په امریکا کې څه ناڅه په ځلورکلنۍ کې کوچنیان ښوونه او روزنه پیل کوي . مګر مونږ د سواد زده کړې پیل کول ګټور بولو او کومه حیرانوونکې خبره نه ده. مونږ د سواد زدکړې پروګرام ددې لپاره پل کړې چې لیک اولوست ته وده ورکړو. تورو او نمبرو څخه یواز مونږ د نښو په څیر تیر کا اخیستلو مګر کله چې مونږ په سړک باندې په شګو لیکنې کولی دومره ګټوری نه وی. د سوازده کړې پروګرامونه مونږته په نړیواله کچه ازاد دي. کله چې تاسې زده کړه وکړه نو تاسې به په خپله یو غوره ښوونکی شی.

زمونږ افغان سرتیري، هوای ځواک، او پولیسو د خپلو پلورنو څخه زده کړې ندې ترلاسه کړې ځکه چې دلته په افغانستان کې د جنګ جګړو درې لسیزو او دوسلو والو طالبانو د سخت وخت ټول ښوونځي تړلي و. دوی دغوښتل او خوښ وو چې خلک د ښوونې او روزنې څخه لرې پاتې شي. خلکو له دوی څخه سر ټکاوه. دوی د وسلوالوطالبانو او ملاعمر د ناخوالو څخه سترې شوي وو. دوی په علم باندې د خپلې ګټې په موخه کنترول لړولی و. د طالبانو حکومت د ډیر وخت لپاره نه و او دوی ډیر بربادي رمنځته کړې وې.

د اته څخه تر نهو افغانانو چې دلته نوې ګمارل شوي په خپله ژبه لیک او لوست نه شي کولای. دوی د خپلې دندې لپاره راپور ورکولو خو دوی لاسلیک نه شو کولای،اوخپل نوم یې هم نه شو لیکلی، او داعلان لیک لوست یې هم نه شو لوستلی، حتی د مهماتو شمیر یې هم نه شو کولای.مونږ دوی ته د سواد زدکړې په موخه څولور اونیزه روزنیز کورس پیل کړ. ددې لپاره مونږ د سواد زده کړې کورس پیل کړې چې زیاتره نوې ګمارل شوي سرتیري بې سواده و- مګر دوی د ژوند عملي مهارتونه زده و او دوی کولایشي چې په چټکې سره زده کړې وکړي.

مخکې مونږ دوی ته د وسلو د استعمال ، جګړیزه تکتیکونه او یا لومړنې مرستو او ددې ترڅنګ د سواد زده کړې تدریس کولو. کله چې به نوې ګمارل شوي سرتیري د لومړي نظامي روزنې ته استول کیده نو دوی په تیزۍ سره زده کړې ترلاسه کولې. هغه سرتیري چې په زده کړه سمبال وي غوره سرتیري بلل کیږي.

دې ښوونیزه هڅو دافغان ملي امنیتي ځواک کې بدلونونه رامنځته کړي. د سواد زده کړې پروګرام دوی د جګړیزه مهارتونه، ډیسپلین او د خدمت ترسره کولولپاره لیوالتیا رامنځته کړې. دا کار به په رښتیني توګه افغان ټولنې او کلیواوباندوته د زده کړې رڼا رامنځته کړي. ددې اوسنی اکاډمیکي متعالي په هره کلمه کې: ټول امنیتي ځواکونه خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي. دا د مسخرې کتابونه نه دي دا رښتنی کتابونه دي چې زده کوونکې به ترې په ښه توګه ګټه واخلي.

ریپوټ مجله د امریکا د دفاع وزارت او افغانستان امنیت لیږدونې د ګډې قوماندانۍ خپرونه ده خپرونه په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت د عامه اړیکو دفتر چې په کابل کې د ایکراینګ مرکې کې موقعیت لري خپریږي د
امریکا د دفاع وزارت ۵۱۲۰.۴ لارښوونې مطابق دغه مجله امریکا متحده ایالاتو ته ... چې د امریکا خبرندۍ ... قانوني خپرونه ده ... مجلې محتویات د امریکا د دولت د خپل قطعي تر ګډه نظر منظور شوی

دچټک ځواب په موخه، د برقي بارکوډ نمبر ۲- ډې دی د موبایل له لارې تاسې کولای شی چې سکن یې کړې او کولای شې چې د لا زیاتو معلوماتو او په ژوندۍ بڼه محتویات وګورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دافغان ملی پوځ دښځینه و کنډک د وسلو روزنو د استعمال په بهیرکی وړیتا وخوده.

راپور: په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت د عامه اړیکو د فتر افسر ان مکلنټیر

داپریل دمیاشتی په ۱-۴ نیټیه دافغان ملی پوځ دښځینه و کنډک، چی دملالی په نوم هم یادیږی د افغانستان په پلازمنه دکابل په ملی نظامی روزنیزمرکزکی د ۹ ام،ام ډوله تفانچو او د ام ۱۶ ډوله وسلو داستعمال وروستی روزنی ترسره کونه په لاره واچوله.

د یادو روزنوپه ار زونه کی د نورو روزنو په پرتله توپیر داو چی ښځینه و لخوا پرمخ وړل کیده چی دا پداسی حال کی ده چی د ائتلافی ځواکونو سلاکارانو دسلاکاری رول پکی ولوبول. په دویمه ورځ، د باور کچه ډیره زیاته شوه او ورځی په پای کی زیات شمیر ښځـو خپلی وسلی پرته د ښوونکو د مرستی څخه دسولو اړونده ټولی چاری په خپله ترسره کولی.

په ډیرو حالاتوکی،دا لومړی ځل و چی ۱۴ تنه نوماندی افسرانو د وسلو د استعمال لاری چاری زده کړی، چی دوخت څخه وړاندی دوی منفردو ډزو مشق ترسره کړ. د ښځینه و د روزنیز کنډک سلاکار او دښځینه و د هماهنگی افسر سیی ،جی. فاریل وویل،" دوی خپلی روزنی په بریالیتوب سره ترسره کړی او خپل وخت یی بی ځایه تیر نکړه. "ټولی ښځینه و په خپل منځونو کی سالم رقابت درلوده دوی هڅه کوله چی په سمه توګه د ډزو مشق ترسره کړی. یوتنی ښځینه د سلامشوری د ترلاسه کولوڅخه وروسته خپل هدف په سمه توګه په نښه کړ او په غوره توګه یی ډزو مشق ترسره کړ. نوموړی ددی روزنو په بریالیتوب سره د ترسره کولوڅخه وروسته ډیره خوشاله وه."

د یاد کنډک قوماندان جګړن فاهیمه پدی راضی وه چی ښځینه چار واکو په غوره توګه روزنی ترسره کړی. ددکورس په څیر نورکورسونه لکه دملالی کولایشی چی بنسټیزه نظامی زده کړی ترلاسه کړی لکه د وسلو داستعمال مهارت. د زده کوونکو دځرنګولی کچه ډیره لوړه وه او ټولو زده کوونکو په معیاری توګه خپلی روزنی ترسره کړی.

فاریل زیاتوی چی،" مهمه خبره داده چی دوی د لاسته راوړنو په اړه سختی هڅی وکړی ." کله چی دوی د ام ۱۶ ډوله وسله استعمالوله د دوی شمیرپه رښتنی توګه ډیر کم و. نه یوازی زده کوونکوی په غوره توګه روزنی ترسره کړی بلکی ددوی ښوونکو هم په غوره توګه خپلی دندی ترسره کړی. دوی مهمی روزنی ترلاسه کړی نور په راتلوونکی کی د افسری کورس روزنو لپاره ښوونکوته اړتیا نه لری.



د ښځینه و نوماندو کنډک چاروکو د ۹ ام.ام تفانچو د استعمال روزنو پرمهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان د دایکندی په ولایت کی یوالی پراختیا مومی

راپو: افسر کیت کارمارک

نیلی، افغانستان- دکابل ولایت د سولی دعالی شورا چارواکو نیلی ته سفر وکړ ترڅو د دایکندی ولایت د سولی شوار او سیمه ایزه مشرانوسره وګوری، او په رسمی توګه دوی د سولی ملی پلان جوړنی سره یوځای کړی.

یوه کمیته چی د دولت د نهو تنوڅخه جوړه شوی وه چی پدی کی د پارلمان، ملی ریاست او دملی امنیت چارواکی شامل و، چی دوی غوښتل چی والی قربان علی اروزګانی او نورو سیمه ایزه مشرانو سره لیده کاته وکړه ترڅو په هیواد کی دسوالی پیغام خپورکړی.

دافغانستان ولس مشر حامد کرزی یوتن د افغانستان د سولی عالی شورا لپاره په دنده ګمارلی ترڅو دافغانستان د دولت او د افغانستان د خلکوسره د بنسټیزه او دوامداره سولی د پراختیا په برخه کی مرسته وکړی.

د یو ولایت لپاره چی د پخوا څخه د امنیت بیلګه وی، کولای شی چی د د ایکندی ولایت ولایتی پلان ته پراختیا ورکړی چی د افغانستان په لر او بر کی د دوامداره سولی په ټینګښت کی مرسته وکړی.

د دایکندی ولایت د سولی شوار یوتن چارواکی محمد ایساق وویل،" د سولی بهیر تهګر او نور خلک سره یوځای کوی او د جنګ څخه د سولی په لور رابلی. "مونږ پدی باور لروچی والی به دابهیرپه بریالیتوب سره ته ورسوی."



د نیلی ښاروالہ جافری هغه ښځینه ښاروالہ ده چی د لومړی ځل لپاره د ولس مشر کرزی لخوا په دنده ګمارل شوی وه، نوموړی د سولی د عالی شورا غړوته د خبرو اترو پرمهال.

هغه ناسته چی د دایکندی په مرکزنیلی کی جوړه شوی وه په رسمی توګه د دایکندی ولایت د سولی ملی پلان جوړنه کی شامل کړ.

(انځور داروزګان د ګډی ډلی د عامه اړیکو یوتن افسر نازلی کانفسور)

یاد ولایت چی د امنیت لیږد ونی پړاو یکی په تیره ډیسمبر په میاشت کی ترسره شوی و، اوس د افغان ملی پولیسو او ملی پوځ چار واکو لخوایی امنیت د ټینګولو چاری پرمخ ځی. د دایکندی ولایت د وسولی شورا هلیه لری چی دا لیده کاته به د امنیت ،بیرته خپل هیواد د راستنیدو او د سولی پیغام نورو هیواد والوته هم ورسوی.

ایساق زیاتوی مونږ غواړو چی یاد پیغام په نړیواله او ملی کچه باندی خپور شی." کله چی د سولی او امنیت لپاره یوه بیلګه وی، نوهمدارنګه یاد ولایت پدی ویاړی چی د بشر او ښځینه و حقوقو ته یکی په پوره توګه درناوی شوی.

دنیلی ښاروال وویل،" زه د دایکندی پرخلکو ویاړم،" او لومړی ښځینه ښاروالہ چی د ولس مشر کرزی لخوا په ۲۰۰۸ کال کی په دنده وګمارل شوه. "مونږ دښځو او بشر حقوق لرو، او مونږ باید د دایکندی خلکوسره ارو مرو مرسته وکړو. زه د سولی بهیر ته ښه راغلاست وایم، او مونږ باید ددی ډاډ ترلاسه کړو چی هغه لاسته راوړنی چی دښځینه و حقوقو په برخه کی مو ترسره کړی له لاسه ورنه کړو."

په دایکندی کی بریالتوبونه هغه مهال رامنځته شو چی کله چی خلکو د ستونزو د حل په موخه او د جنګ جګړی پروړاندی یی د اړیکونیولو څخه مسولیت په غاړه واخیست. .

جافری وویل،" خلک باید سره یوځای او یوموټی شی ترڅو د ستونزو د حل په اړه خبری وکړی، او دحل لاری چاری ورته پیدا کړی. "

کله چی د سولی رامنځته کولو په اړه خبری کیږی نو ولایتی مشران د سیمه ایزه خلکو سره د یوموټیتوب او دسولی بهیر د رونوالی په اړه خبری اتری کوی چی د سولی په بهیر کی تیزوالی رامنځته کړی. روان کال د بادامو فیستیوال د سولی شورا ته ددی اجازه ورکړه چی د یادی ټولنی ۴۰۰۰ چار واکوسره لیده کاته وکړی او د سولی رامنځته کولو لپاره زیارکښ کسان پیدا کړی.

دافغانستان پارلمان یوتن چارواکی محمد اکبر وویل، " دبادامو فیستیوال دکالونو راهیسی په یاد ولایت کی ترسره کیږی."هغه توپیر چی د سږنی کال کی و دا و چی مونږ د دولت د هڅو له لاری اړیکو ونیسو."

والی اورزګانی زیاتوی چی په ولایت کی د امنیت د ټینګښت او د سولی بهری په موخه زیات پرمختګ رامنځته شوی مګر لا تراوسه هم ننګونی لاترمخه شته چی باید له منځه یوړل شی او د پرمختګ په لور ګرندی ګامونه پورته کړی.

اورزګانی ددی احساس کوی چی دیاد ولایت د تاسیساتو چاری یوه لسیزه وړاندی پیل شوی دی، یاد ولایت کی د نورو ولایتونو په پرتله امنیت غوره والی موندلی دی او د کابل په څیر د کانکور ازموینی او ښوونی او روزنی په په زیاته کچه پراختیا موندلی ده.

اورزګانی وویل،" چی د دایکندی ولایت لپاره دامهمه ده چی ځوانان یي مصروف وساتل شی ترڅو دوی د ناوړه عملونو څخه په امان کی وی."

په یاده ناسته کی خبریکونکو زیاته برخه د هیواد او خلکو یوالی او یوموټیتوب په اړه وی. د دایکندی خلک هیلمند دی چی د دوی د وسولیزه کړنو او یوالی به ددی لامل شی نور خلک هم ورته لاری غوره کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په نښه کړي.یوه بوشکه چې د ستیل څخه جوړه شوې وي او شل لیتره تیل پکې ځایږي په ځمکه کې ښخیږي ، دې ته چمتو وي چې د ډلې موټو راشي او ورباندې والوزي.

دمارکرو رنګه قلمونو باندې د ناچاودیدونکو توکې په نښه کوي او ورو ورو خپل ځان د نومړي توکې څخه د ماین پاکي ویسلې څخه په کاراخیستوسره خپل ملګروته راپور ورکوي .

بهادر وویل،" تیر وخت مونږ زیاتې ستونزې لرلې چې ځمکنې ماینونه کشف کړو." مګر اوس مونږ ډیر بریالي یو ځکه چې روزنې موترلاسه کړې. "زه اوس مسلکي یم. زما ملګري او همکارن هم مسلکیان دي. مونږ اوس د پخوا په شان مرګ ژوبلې سره نه مخا مخ کیږو. "

یادې روزنې د افغانانو د روزنې په موخه په لاره اچول شوې ترڅو دوی هغه شکمن او خطري شیان په نښه کړي چې نارمل ښکاري او پدې پوې شي چې څرنګه شکمن توکې کشف کړي، که چیرې دوی په کوم ځای کې ورسره مخا شي. په هرځای کې د ماین پاکولو ډلې ډیر ځیرکه او پوې وي ځکه چې دوی ډیرې خطرناکې دندې ترسره کوي. دماین پاکي ټول چارواکې د چاودیدونکو توکو دهغو ی دخطر په برخه کې زده کړې ترلاسه کړې. مګر دلته دهغو کسانو شمیر چې د خطر د مخنیوی چارې پرمخ بیايي کم دی.

د یادې قول اردو شلم کمانډو کنډک یوتن زده کوونکي افسر قدرت الله وویل،" مونږ دوسلوالو طالبانو تکتیکونو په اړه زده کړې ترلاسه کړې چې دناچاودیدونکو توکوو عمومي لینونو، چې دلرې واټن څخه یې ترې.. دا زمونږ لپاره ډیره مهمه ده . "په تیر وخت کې به چې کله ماین پیدا کړ نو زه مسلکي انجنیر نه وم او په غوره توګه مې خپله دنده نشوه ترسره کولی. مګر اوس زه مسلکي یم او خپلې دندې په سمه توګه ترسره کوم."

دضربتي ځواک دماین پاکې ، او افغان ملي پوځ سرتیرې، دناچاودیدونکو توکو د کشف په موخه په ډیرې پاملرنې سره ورنژدې کیږي او هغو نښو نښانې چې د ماین پاکلې ډلې له خوا په رنګه توګه ځای پرځای شوې کتنه کوي او په دقت سره سیمه څاري. د ورته پروسیجر په تعقیبولوسره، د ناچاودیدونکو توکو کشف کورس زده کوونکې دچاودیدونوکو ته مخامخ خپل ځانونه ځای پرځای کوي ترڅو شکمن توکې مخنیو ی وکړي. نوموړي د ماین د چاودولو لین او سې څلور وسیلې څخه کار اخلې چې ناچاودیدونکې توکې په خپل ځای کې ولوزویو ترڅو نورو چارواکوته ددې لار هواره شي چې خپلې دندې ترسره کړي.

د یادې پروسې څخه وروسته ، نوموړي بیرته خپلې ډلې ته ورځي. کمانډو دچاودنې څخه وړاندې درې دقیقې وخت لري. د چاودنې ګرد زده کوونکو د د وې ښوونکوته ددې اجازه ورکوي چې پدې پوې شي چې ددوی د روزنې مشق بریالي و.

کله چې ټولې ډلې خپل مشق ترسره کړ، نو ددوی ښوونکې دوی په ټولګي کې سره یوځای کوي او د بیلابیلو ماینونو ، چاودیدونکو تو او راکټونو په اړه ورته بیلګې وړاندې کوي او همدارنګه دپوسټروله لارې دوی د روزنې تخنیک او د ژوند په چاروکې ورته لارښووني کوي. دلته ښوونکې د روزنې د وروستي اونې په، راتلوونکې آزموینې، د کورس څخه وروسته د ژوندانه او هغه څوک چې د خپلو روزونوبشپړیدو څخه وروسته بیرته دلته رشې او د ښوونکې په توګه دنده واخلې خبرې اترې وکړي.

بهادر وویل،" زه ډیر خوشاله یم. دا زمالپاره د خوښي شیبې وې. "کله چې زده کوونکې د لومړي ځل لپاره دلته راغلل، دوې ماینونه او د ماین کشفولو الې نه پژاندې مګر اوس زه ګورم چې دوی په هرڅه باندې پوهیږي.



د کندهار ولایت داتل په کمپ کې د ناچاودیدونکو توکو د خطر دمخنیوی کورس د روزنې په بهیر کې دافغان عامه نظم یوتن پولیس په شکمنه سیمه کې ناچاودیدونکې توکې د را ویستلو په موخه دهلوځلوپرمهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان ملی امنیتی ځواکونه د ناچاودیدونکو توکو دخطرڅخه د دفاع په موخه تدریسی چاری پرمخ بيايي

راپوراو نځور: دسهیل د سیمه ایزه قوماندانی د عامه اړیکو د دفتر افسر امندا ام. اهیلز



دهیرو په کمپ کی د ماین خطر له منځه وړلو کورس په بهیر کی د افغان عامه نظم پولیس دخپلو همکارانو د خوندی ساتنی په موخه د ماین پاکولو الی څخه په کار اخیستوسره د ۳۶۰ درجی امنیت دلاربښوونکی مشری کوی.
د ۲۰۵ قول اردو دکمانډو کنډک دانجینری د ګزمی افسر او د ناچاودیدونکو توکو د خطر دمخنیوی ښوونکی بهادر دکندهار ولایت داتل په کمپ کی د روزنی په بهیر کی د یوتن زده کوونکی څخه چی په یوه خطری سمی ته ورنژدی کیږی د کتنی پرمهال. (انځور دامریکی دمتحده ایالاتو یوتن افسر امندا ام هیلز)

د اتل کمپ څخه دافغان ملی امنیتی ځواکونو د ماین پاکی زده کوونکي دماین پاکی دکورس چارواکوسره یوځای هغه چاودیدونکوتوکوپه کشف کی کار کوی چی لاپخواڅخه چاودیدونکی توکی د ناپاکیولاندی ځای پرځای شوی و. دافغان ملی پوځ او دیونیفورم ملی پولیسو د موټرو چار چاپره وګرځیدل چی په چټکی سره دیادی سیمی څخه ډاډ ترلاسه کړی چی ددوی نور ملګری په ډاډمنه فضاکی د موټرو څخه راښکته شی.

دسهیل د سمیه ایزی قوماندانی د اتل کمپ څخه دافغان او د ضربتی ځواک نړیوالو ځواکونو په ګډه د ماین د جګړی په ډګر کی د ماینو د خطرڅخه د ځان ژغورنی په موخه افغان ملی امنیتی ځواکونو وړیتاو ته پراختیا ورکوی ترڅو دوی وکولای شی چی ناچاودیدونکی توکی کشف او خونسا کړی.

د سهیل قوماندانی څخه د ضربتی ځواک د ماین پاکی مسول بنجمین بیک وویل، "دوی به د ماین پاکی چارواکو خالی ځایونه ډک کړی."

نومړی زیاتوی چی دلته ۲۰ زده کوونکی په دری ډلو ویشل شوی، چی دوه یی افغانان دی او دوه یی استرالیان. د روزنیز مرکز د چاپریال سیموکی د څلور تنو زده کوونکو ګزمی ترسره کولی ترڅو ددی ډاډ ترلاسه کړی چی په یاده سیمه کی ۳۶۰درجی امنیت ټینګ کړی. دوه تنه زده کوونکی دافغان یونیفورم پولیس وو چی دخپل ملګرو او دخپل ځان څخه د مخه یی دماین کشفکونکی حلی څخه په ځیرکی سره کار اخیسته ترڅوددی ډاډ ترلاسه کړی چی دوی ناچاودیدونکی کشف او خونسا کړي.

بیک زیاتوی چی،" اوس دوی د عمومی لینونو رایستلو په موخه کارکوی، او دیوسیمی څخه د خوندیتوب ډاډ ترلاسه کوی."

کله چی دوی په سړک او یا په کوم غارسوری کی شکمن توکی پیداکړی چی ددوی ترمخه وی، نو زده کوونکی باید حتمی ددی ډاډ ترلاسه کړی چی دخپلو ملګرو او ډلی لپاره سیمه په غور سره وګوری چی کوم ناچاودیدونکی توکی په کی شته او کنه.

د افغان ملی پوځ د ۲۰۵ لمبرقول اردو د انجنیری ټولی دناچاودیدونکوتوکو دکشف، ښوونکی بهادر وویل،" دا سخته دنده ده ددی له خاطره چی که چیری دوی کومه غلطی وکړی نو ښایی دوی ته زیان ورسیبږی."دوی باید د ډیری پاملرنی څخه کار واخلی ددی لپاره چی ، دا یوه خطرناکه دنده ده."

"بیک زیاته کړه چی" کله چی مونږ افغانستان ته راغلو نو مونږ پروګرام ولیدل چی دلته تری کار اخیستل کیده او مونږ پریکړه وکړه چی یاد پروګرام د نومبر په نیمایی کی له سره پیل کړو. لومړی ټولګی د ډیسمبر په میاشت کی و. مونږ د یاد کورس زده کوونکو څخه ځنی کسان د ښوونکی په توګه په دندو وګمارل ترڅو دوی په خپله دیادکورس تدریسی چاری پرمخ بوزی."

نومړی زیاتوی چی،" مونږ پدی باوریو چی د اوږی په وروستیوکی به دیاد کورس ټولی روزنیزی او ښوونیزه چاری د افغانانو لخوا پرمخ یوړل شی.د ناچاودیدونکو توکو ته په سل متری کی ورتګ ممکن دی چی ، زده کوونکی کولایشی د ماین کشف کوونکی الی څخه په کاراخیستنی او په پاملرنی سره ورشی. کله چی لومړی زده کوونکی شکمن توکی ته ور ورسیده، نو نوموړی په پاملرنی سره په هغه ځای کی کینی او ترشاه یی بل تن دهغه په خیټه باندی څملی ترڅو په غوره مهارت سره یاد توکی کشف او خونسا کړی.

د ماین پاکی او کشفولو وسیلو څخه په کار اخیستوسره، نومړی ماین د معلوموللو هڅه کوی ترڅو شکمن توکی په برش سره پاکړی چی شمکن توکی په شګوسره وپوخی ترڅو معلوم شی چی دا یوشکن توکی دی.

دکشفولو پروسه ډیره اږده او پاملرنه غواړی. په پایله کی، هربرش چی تری کار اخیستل کیږی نارنجی رنګ سور رامنځته کوی ترڅو د ځمکی لاندی یاد شمکن توکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


# افغان مشرانو دافغان ملی پوځ راتلوونکی په موخه یولوړ رتبه افسر وټاکل

راپور: په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت د عامه اړیکو د دفتر ایریک لاک ووډ

د اپریل دمیاشتی په ۱۹ نیټه دافغانستان د ملی دفاع په وزارت کی دافغانستان په تاریخ کی لومړی هیئت و چی په یاد وزارت کی د سرپرکمشر قدمدار د ټاکولوپه موخه سره راټول شوی و، یاد هیئت به د افغان مشرانو لخوا دافغان ملی پوځ راتلوونکی په موخه یولوړ رتبه افسر وټاکي.

دافغانستان د ټول پوځ څخه ۱۴ نوماندان و چی خپل اسناد یې د ټاکنی هیئت ته ورکړی و او د هریوسره دیاد هیئت لخوا مرکه وشوه.

په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت په چوکاټ کی د ائتلافی ځواک سلاکار بیلی جی. بلاکمان وویل،"یاده غونډه ډیره ګټوره وه ځکه چی د یاد بهیر معیاری و او ددی لپاره رامنځته شوی و چی ځنګه باید په لاره اچول شوی وی. "دی کار یو وړ او بنسټیزه سیستم رامنځته کړ چی دا یو روڼ او د یوالی د سوری لاندی یوسم سیستم دی. "

ټولو نوماندانو بیلا بیلی نظامی دندی ترسره کړی چی د دټیم مشری څخه تر د کنډک مشر، د ګارنیزون په کچه او د روزنیزه مرکزونو کی د جکړیزه رول په موخه دندی ترسره کړی وی. دغه بیلا بیلی دندی د یادي لوړرتبه دندي ګمارنی لپاره شرطونه وو چی هغه څوک چی یادی دندی لپاره ګمارل کیده ، دافغان ملی پوځ د مشرتوب په کچه به د سرېترو استازی توب کوی.

د یادی ندی ګمارنی لپاره دغ شرطونه اړین و: په غوره توګه د دندو ترسره کونی شالید، مشرتوب، د دخدمت کولو وړتیا، ځرګند پوځی شالید او ملکي ښوونه او روزنه، غوره اخلاق، غښتلی ارزښتونه، وفاداریو ډیسیپلین او داسی نور شامل و.

د افغان ملی دفاع وزارت اوسنی سرپرقمشر قدمدار روشن وویل، چی یاد هیئت د غوره نوماند د لټون په حال کی ده. دسرپرکمشر قدمدار دنده د افغان ملی پوځ د لوی درستیز او د پوځ ترمنځ یو پول مانا ورکوی. "دیاد ی دندی ګمارنی لپاره وړ او غوره کس ته اړتیا ده. "

یاد جوړ شوی هیئت ډیر ګټور و. نژادی چاری د پوځ په کولتور کی مهم رول لوبوی، نو دا حقیقت په پام کی نیول شوی و کله چی نوماندی ټاکل کیده.

نوموړی زیاتوی،" کله چی تاسی په هره سیمه کی د ځواک وړتیا وګوری، نوتاسی به د توزن غوښتوونکی شی. " هیڅوک نه غواړی چی د هیئت ټول چارو واکی پښتانه وی او یا تاجک، ددی لپاره چی دوی په یو اړخیزه توګه نه شی کولای چی د پوځ استازی توب وکړی دوی به په هر کدم کی توزون په پام کی ونیسی."

یاد هیئت د نوماندو ټاکنی په بهیر کی نژاد پرستی نه کوی او یونژاد په پام کی هم نه نیسی دوی بی طرفه او عادلانه وی. د بیلګی په توګه، که چیری یو هزاره نوماند د هیئت خونی ته ورشی او وګوری چی ټول چارو واکی پښتانه دی نو دخفګان احساس به وکړی.

بلاکمون وویل،" یاد هیئت په ډاګه کړه چی کله یو نوماند داخل ته دآزموینی ورکونی په موخه د مرکی لپاره ننوزی ددی احساس ونه کړی چی ګواکی زه دخپل نژاد څخه استازی توب کوم. "

د یاد هیئت د پریکړی وروستی پایلی به د ۲۰۱۲کال د میی په میاشتی کی اعلان شی.

په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت د ۳۸ ائتلافی ځواک څخه جوړ شوی چی دافغانستان اسلامی جمهوری دولت سره د افغان ملی امنیتی ځوا ک به غښتلوب او پیاوړتیاکی په دوامداره توګه مرسته کوی ترڅو افغان ځواک ددی وړتیا پیدا کړی چی د ۲۰۱۴ کال ترپایه د ټول هیواد امنیتی چارو مسولیت په غاړه واخلی. دلازیاتو معلوماتو په خاطر دغه ویب پاڼه وګوری www.ntm-a.com



دافغانستان د ملی دعاع په وزرت کی دافغان ملی پوځ راتلوونکی په موخه یولوړ رتبه افسرټاکلو په موخه د یاد وزارت هیئت د نوماندو سره د مرکی پرمهال.
د افغان ملی پوځ راتلوونکی په موخه یولوړ رتبه افسر د ټاکلو هیئت دافغانستان دملی دفاع په وزارت کی یوبل سره دخبرو اترو پرمهال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تدریجی توګه  د یو هیواد جوړول

راپور:په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت دالمو کمپ د عامه اړیکو دفتر ګری هنګسټلر



افسر برډ وهیپل، د سواد زدکړی سلاکار او د کابل ملی نظامی روزنیزمرکز د سواد زده کړی  ښوونکی حمید جمال او د دیاد مرکزلپاره ماسټر روزونکی هیسلامودین فیضی په ګډه همکاری په یاد روزنیزمرکزی کی زده کوونکولپاره د روزنی توکو برابرولوپرمهال.
دکابل په مل ینظامی روزنیز مرکز کی د سواد زده کړی سلاکار او ښوونکي د سواد زده کړی روزنی په موخه د زده کړی توکو د برابرولو پرمهال.

د کابل ملی نظامی روزنیز مرکز هرکال په زرګونه شمیر دافغان ملی پوځ سرتیری د سواد زده کړی په  موخه روزی. بنسټیزه سواد زده کړه دهر سرتیری لپاره اړینه ده ترڅو دوی په بنسټیزه نظام باندی پوی شی اودوی ته د پراختیا چانس ورکړی.

د کابل ملی نظامی روزنیز مرکز د سواد زده کړی مدیری مسول حامد جمال وویل،" موږ دخپل ملت خدمت د دوه لارو څخه ترسره کوو." دافغان ملی پوځ لپاره دا اړینه ده چی داسی یوپوځ ولری چی لیک او لوست وکړایشی، مګردا د سرتیرولپاره هم مهمه ده چی یاد مهارتونه زده کړی ترڅو د خپلی ټولنی او هیواد په بیار رغونی کی فعاله ونډه واخلی."

جمال د ماسټر روزونکی  هیسلامودی فیضی سره یوځای د کابل ملی نظامی روزنیز مرکز کی د نهه اونیزه روزنیز کورس څخه څارنه کوی. همدارنګه نوموړی ددی ترڅنګ د سواد زده کړی هڅی په نورو عملیاتی مرکزونو کی چی افغان ملی پوځ د روزنی لپاره پکی ګمارل کیږی لارښوونه کوی.

نوموړی زیاتوی چی ،" یوملت چی د سود زدکړی کچه پکی ۱۰ – ۲۰ سلنه وی نوی دیاد هیواد لپاره پکار ده چی امنیتی ځواکونو لپاره اړینه ده چی  په زده کړه سمبال شی .  زموږ کورسونه نهه اونی په برکی نیسی. که چیری دوی ازمونیه کی بریالی شی، دوی به په لومړی درجه کی وی چی دا دغربی نړی د لومړی درجی  او د لوستلی دریمی درجی سره ورته دی."

د کاناډا هیواد څخه د سواد زده کړی سلاکار افسر برډ وهیپل په بنسټیزه علم ټینګار وکړ چی دا کار به دافغان ملی پوځ په لیکو کی غوره بدلونونه رامنځته کړی .که چیری یو سرتیری ولیږی چی یو بکس مهمات راوړی او هغه یي د شمیرو په اندازه پوی نه شی تاسی ستونزی سره مخامخ کوی چی دا یوه مهمه او بنسټیزه خبره ده.

وهیپل زیاتوی چی ،" د نوو ګمارل شو چار واکو په لوست کی ستونزی لیدل د سترګو د بلدیتا وه، په ځانګړی توګه چی د یو باسواده هیواد کاناډا څخه راغلی و."نوموړی ټینګار وکړ چی دا ستونزه په چټکی سره نه هل کیږی مګر تاسی د لږ بریالیتوب لیدونکی یاست چی دوی هڅول کیږی."

دبیلګی په توګه، کله چی دکابل ملی نظامی روزنیز مرکز ته لیدونکی راځی، ځنی د زده کوونکو څخه پښتنه کوی چی دخپل نوم توری ویلی شی او کنه."په یو ټولګی کی چی ۳۵ کسان پکی زده کړه کوی ټول لاسونه جګوی چی موږ خپل نوم توری ویلی شو او پدی ویاړی، دا هغه څه دی چی کله دوی په لومړی سرکی ټولګی سره یوځای شو نو دوی نه شو کولای چی دخپل نوم توری ولیکی."

جمال زیاتوی چی ،" دا باید په یاد ولرو چی افغانستان د ۳۰ کلونوڅخه زیاتی جنګ جګړی ځپلی دی. یولوی زیان یي د ښوونی او روزنی سیستم و. موږ ډیراوږد واټن په مخ کی لرو مګرهرکال خوالی مومی ددی لپاره چی هغه کسان چی موږ ورته لیک او لوست تدریس کوو ، زموږ د ښاریانو لپاره غوره بیلګی دی په ځانګړی توګه ځوانان."

(c) ketabton.com: The Digital Library


# په کندهارکی میشت بهرنی سلاکاران د افغان چارواکوسره مرسته کوی

راپور او انځور: افسر جیرمی لاری، د ۴۳۸ هوای مفرزی د عامه اړیکو د دفترافسر نادین وای بارسلی

راپور او انځور: افسر جیرمی لاری، د ۴۳۸ هوای مفرزی د عامه اړیکو د دفترافسر نادین وای بارسلی

دا ستونزمنه ده چې په افغانستان کی سفر وکړی مګر د ام ۱۷ ډوله چورلکو دا په ډاګه کړی چې پدی جنګ ځپلی هیواد کی دعملیاتو د ترسره کولو په موخه ارزښت ناکه سفر وکړی. یادو چورلکو د ا په ثبت رسولی چې داتلافی ځواک د ملاتړ په موخه بیلابیلی دندی ترسره کوی او په لرو پرتو سیموکی ددوی ملاتړ کوی.

په سختو او لرو پرتو هوای فضاکی یادی چورلکی دځارنی نظام له مخی په غوره توګه دندی ترسر ه کوی او دخپلو چارو اکوملاتړ کوی.

د ۴۴۲ هوایی مفرز ی سلاکاران د افغان چارو واکوسره مرسته کوی چې د ام ،ای ۱۷ ډوله چورلکو دندی جاری وساتی او دوی وکولای شی چې په غوره توګه تری کار واخلی.

د ۴۴۲ هوای مفریزی د چورلکو د ځانګی سلاکار افسر جمز اشکام وویل، افغانان اوس په خپله غوره دندی ترسر کوی.

نوموړی زیاتوی چی،» زه پدی پوی شوم چې افغانان ډیر زیارکښ او غو ره کسبګردی. «کله چې دوی ته کومه دنده ورکړی نو دوی یې په بریالیتوب سره سرته رسوی او ورباندی ویاړی. «

پنساکولاوای چې افغانان اوس مهال ۹۵ سلنه دندی په خپله پرته د نړیوالو مرستی څخه په خپله ترسره کوی او ځنی وخت چې کله دوی کومی سختی ستونزی سره مخامخ شی نو بهرنی سلاکاران ورسره مرسته کوی.نوموړی زیاتوی چې افغانان په غوره توګه دندی ترسره کوی.

نوموړی زیاتوی چې ،» ما ټولی دندی او کارونو څخه څارنه وکړه مګر کومه ستوزنه نه وه پکی. «زه اوس یو سکنډ هم پراوزته انتظار نه کوم چې دد وی لخوا برابرشوی وی ځکه چې دوی اوس ټول کارونه په سمه توګه ترسره کوی. «

نوموړی زیاته کړه چې ځنی اصلی ستونزی د حمایه کولو او د پرزو او د اړیکونیولو ستونزی دی چې تخنیکی ډاټا کموالی دی.دلته اوس مهال د تخنیکی ډاټا یا معلوماتو الی د انګلیس او روسی هیوادونو څخه شتون لری چې زیاتره افغان مستریانو او کسبګرو یی لوستلی نه شی.

ځنی روزنی په دودیزه ټولګی کی ترسره شوی.

د ۴۴۲ هوای مفرزی افسر چارلیس جنکین د افغان چارواکولپاره د څارنی او مراقبت او د دندی په اړه د لنډو معلوماتو ورکولو لپاره سلامشوری مرکز جوړولوپه موخه

پلانونه جوړ وی، نور سلاکاران افغان چارواکوسره د منجمنټ د تدریسی چارو په ورزده کولوکی بوخت دی. نوموړی زیاتوی چې دوی غوره زده کوونکی دی.

نوموړی زیاته کړه چی،» زه په تدریسی چارو کی د سرچینو او د نورو توکو کوم کموالی نه ګورم. « دوی غواړی چې دخپل هیواد بریالیتوب وګوری او زه یې د دوی په سترګوکی هر وخت ګورم کله چې دوی ته تدریس کوم. «

بیلټیمور زیاتوی چې زه افغانانو ته دا ورزده کوم چې کوم شیان د مراقبت او ساتنی او د الوتکی د عملیاتو اړیتا لپاره مهم دی . نوموړی وای چې زه ډیر د خوښی احساس کوم کله چې زده کوونکی یوه ستونزه حل کړی او دهغی څخه وروسته دوی خوشاله وینم. کله چې دوی د الوتکی دپراوز وخت/ساعتونونه پاملرنه ونه کړی نو پایلی یی ډیری ناوړه وی ځکه چې د پرواز وخت ډیر مهم دی.

جانکینززیاتوی چې زه هڅه کوم چې زده کوونکی دی ته وهڅوم ترڅو د دغسی خطر مخنیوی وکړی.

نومړی زیاتوی چې ،» ټول پرواوزنه او د الوتکی اړونده کارونه باید په خپل وخت ترسره شی او پیلوټان دی ته مناسب وخت لری چې د الوتکی د ترمیم چاری ترسره کړی. «یوځل چې دوی زده کړل نو بیا دوی کولایشی چې ترسره یی کړی.کله زه کوم یو و ګورم چې اړونده دنده یی ترسره کړه نو دا یو لویه لاسته راوړنه ده. «

د کندهارد هوای ځواک دمهماتواو وسلو مسول جګړن عزیزالله وویل، زه د هغو سلاکارانو چې دافغانانوسره مرسته او همکاری کوی درناوی کوم.

نوموړی زیاتوی،» ټول سلاکاران زما ملګری دی او یو له بل سره د ورونو په څیر رویه کوو. «ترمیم او مراقبت ډیر مهم دی، ددی لپاره چې پرته له ترمیم او مراقبت څخه پرواز ستونزمن کار دی. دا ډیر دخوښی ځای دی چې سختی دندی په بریالیتوب سره ترسر ه کړو. «



دکندهار د هوای ځواک د هوای مفریزی سرپرست افسر سیفوملوک، د افغان ام، امی ۱۷ ډوله چورلکی څخه د تیلوبادپکی څخه د بدلون پرمهال.

د ۴۴۲ هوای مفرزی د وسلو سلاکار ماستر افسر مارکوز ویګنز وای، د افغانانوسره د وخت د تیریدو څخه خوند اخلی. نوموړی زیاتوی چې دوی هره ورځ د خپلواکی په لور روان دی او خپلی دندی په خپله ترسره کوی.

نوموړی زیاتوی چې ، « دوی ټول د بریالیتوب په لور روان دی او دی ته چمتوکیږی چی په خپلو خپو ودریږی، لیویستون وای چې ، دلته ځنی کارونه شته چې باید ترسر شی، دوی په څرګند ډول روښانه راتلوونکی لر ی. دوی باید هغو لارو چارو ته پرمختګ ورکړی چې کومه مونږ دوی ته تدریس کو. «

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دسواد زده کړی پروګرام د شاهین روزنیز مرکز لپاره یو لوی پرمختګ دی

راپور: په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت دشمال سیمه ایزه ملاتړ قوماندانی د هوایي ځواک افسره کرسټینا

میک سپان کمپ، افغانستان- د مارچ دمیاشتی په ۲۲ نیټه دافغانستان مزارشریف د شاهین روزنیزکمپ ته د افغان یونیفورم پولیسو چاروا‌کولپاره د سواد زده کړی په موخه د دری ژبی ځلورسوه کتابونه ورکړل شو.

په افغانستان کی دناټو روزنیزما موریت په چوکاټ کی د بیلابیلو هیوادو نو سلاکاران کار کوی، دوی هیلمند دی چی یاد کتابونه دشاهین دکمپ یونیفورم پولیسو د سواد زده کړی کچه لوړه کړی.

دامریکی دمتحده ایالاتو څخه دشمال ملاتړ سیمه ایزی قوماندانی دافغان ملی پولیسو د عملیاتومسول ایډوین ریمور وویل، دیادو کتابونو انډول او کچه د هغو کتابونوسره ورته ده چی دافغانستان په شمال کی د ملی پولیسو په روزنیزومرکزونوکی استعمالیږی

د نړیوال حقیقت کتاب ویب پاڼی ویناسره سم، په افغانستان کی دهغه نارینه و چی عمر یی ۱۵ کلونوڅخه زیات وی په اوسنی وخت کی ۴۳ سلمنه لوړه شویده. د سویډن هیواد څخه دشمال ملاتړ سیمه ایزی قوماندانی د یونیفورم پولیسو روزنیزی ډلی مسول الستروم زیاتوی چی په پایله کی، ټول زده کوونکو څخه وړاندی له دی چی روزنیز مرکزکی شامل شی آزموینه واخیسته شوه ، زیاتره زده کوونکو د آزموینی هغه کچه چی ورته اړیتا وه پوره کړه.

که څه هم، هغه کسان چی د سواد زده کړی کچه یی ټیټه وی روزنیز پروګرام لپاره ومنل شو مګر دوی دی ته اړتیاوی لری چی د سواد زده کړی کورسونه تعقیب کړی او په مسلسله توګه روزنی ترلاسه کړی.

الوسترون زیاتوی،" دوی دلته د سواد زده کړی لپاره ښوونکی لری."دوی هره ورځ دیوساعت لپاره په ټولګی کی زده کړی کوی، مګرځنی وخت یی د وی سرته نه شی رسولی."

که څه هم ددوی زده کړی پروګرام دیوساعت لپاره ټاکل شوی، په وخت او زمان سره دا بدلون موندی شی ترڅو نورو روزنو وړتیاوی پوره کړی او زده کوونکی لا تراوسه هم ګټورپرمختګ ته اړتیالری. ریمرو زیاتوی چی دمشق کتابونه د زده کوونکو د لیک او لوست وړتیاوی پیاوړی کوی او پرته له دی چی دوی کوم مضمون لولی نو د وی پکی کی کومه ستونزه نه لری که مذهبی وی او یا سیاسی.

ددی ترڅنګ، زده کوونکو د اسانی په موخه چی دوی کتابونو ته په اسانی سره لاس رسی ولر ی، د شاهین په کمپ کی یوه خونه د کتاب خانی په موخه چمتوشویده ترڅو زده کوونکی وکولای شی چی په خپله د لیک او لوست مهارت ته پراختیا ورکړی.

نومړی زیاتوی چی ،" په کتاب خانه کی ددی کتابونو درلودل ټولو زده کوونکو ته ددی اسانتیا ورکوی چی په خپله زده کړی وکړی او هری چیری چی دوی غواړ کولایشی زده کړی ترلاسه کړی."

که څه هم کتابخانی د رامنځته کیدو اصلی علت دادی چی زده کوونکولپاره یو موقعیت رامنځته کړی ترڅو خپلو روزنو ته پراختیا ورکړی، دا کار هغو زده کوونکوسره هم مرسته کوی چی له وړاندی څخه یی د زده کړی سره اشنایی درلوده ددی کتابخانی څخه ګټه واخلی او خپلو زده کړوته به پراخیتا ورکړی.

ریمورزیاتوی چی ،"دا کتابخانه یواځینی وسیله ده چی زده کوونکی تری د تولګی څخه بهر کار اخلی او خپل لیک او لوست ته پکی وده ورکوی." مونږ هیله لرو چی دمشق کتابونه زده کوونکولپاره ډیرمهم دی او له دوی سره پدی کی مرسرته کوی چی په زده کړه سمبال پولیس ځواک رامنځته کړی."

دیونیفورم پولیسوڅخه د شاهین د کمپ مرستیال حمیدالله عاریف وویل، نومړی کتابونه لیدلی او پدی اند دی چی دزه کوونکو مهارتونو په پراختیا کی مرسته وکړی ترڅو دوی وکولای شی چی لیک او لوست وکړی او د راپور ورکلو وړتیاوی ترلاسه کړی. مګر نومړی غواړی چی کتابخانی ته نوره هم پراختیا ورکړی ترڅو پکی د سواد زده کړی بنسټیزه توکی رامنځته شی.

نومړی زیاتوی چی ،" زه غواړم چی زده کوونکولپاره نور ګټور کتابونه هم پیدا کړو ، لکه د پولیسو دتکتیکونو کتابونه." مونږ ځنی زده کوونکی لرو چی په لوړه درجه فارغ شوی مونږ هیله لرو چی د دوی لپاره نور کتابونه هم رامنځته کړو ترڅو دوی وکولای شی چی خپلی پوهی ته پراختیا ورکړی."




په افغانستان کی مزارشریف ته نژدی د شاهین په روزنیز مرکز د شمال سیمه ایزه ملاتړ قوماندانی کی دمتحده ایالاتو پوځی افسر ایډوین ریمرو دافغان ملی پولیسو د عملیاتو افسر دشاهین دکمپ په روزنیزه څانګه کی د سویډن هیواد څخه د نظامی پولیسو ښوونکوته د بیلابیلو کتابونوپه اړه د څرګندونوپرمهال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**